مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲۱** (از ۱٦ الی ۲۳ جوزا ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

### طالبان و تحرک‌های اخیر دیپلوماتیک

- چرخش از موضع نظامی به گفتگوهای سیاسی ........ ۴
- نشست پگواش در قطر ........ ۴
- سفر به تهران ........ ۵
- نشست اسلو ........ ۵
- نشست دوبی ........ ٦
- نتیجه گیری ........ ٦

### د بې‌پیلوټه الوتکو بریدونه او امنیتي ترون

- د افغان حکومت سکوت ........ ۹
- په افغانستان کې د بې‌پیلوټه الوتکو فعالیت ........ ۱۰
- د ملکیانو تلفات او عامه ذهنیت ........ ۱۱

### د ترکیې ټاکنې؛ آیا بهرنۍ سیاست بدلیږي؟

- په ترکیه کې د اسلامپالنې شالید ........ ۱۳
- عدالت او پراختیا گوند؛ بریالی که ناکام؟ ........ ۱۴
- د حکومت جوړونې راتلونکي سناریوگانې ........ ۱۵
- د نوي حکومت بهرنۍ چارې ........ ۱٦

## مقدمه

طالبانو په دې وروستیو کې په بې‌سابقه ډول د ډیپلوماسۍ ډګر تود ساتلی او استازو یې د افغانستان د حکومت او مدني ټولنې له استازو سره په بېلابېلو غونډو کې غیررسمي خبرې کړې دي. د طالبانو ویاند هم، چې په تېرو ۱۴ کلونو کې یې تل د تلفاتو او جګړو اعلامیې نشرولې، په دې وروستیو کې د سولې د خبرو اترو پیغامونه هم لري.

طالب استازو په پرله پسې ډول په قطر، اسلو او دوبۍ کې د بېلابېلو سیاسي اړخونو له استازو سره د سولې او روغې جوړې په تړاو خبرې کړې دي او د قطر دفتر مشر یې تهران ته هم د یوه پلاوي په مشرۍ سفر کړی؛ خو د چین په ارومچي کې جوړه شوې غونډه کې چې ویل کېږي د پاکستان په ابتکار جوړه شوې وه، خپل ګډون رد کړی دی. پوښتنه دا ده، چې د طالبانو وروستي سیاسي تحرکات او په بېلابېلو غونډو کې ګډون څه پیغام لري؟

د سولې په تړاو له دغو تازه پرمختګونو سره هم مهاله، څو ورځې وړاندې په خوست ولایت کې د بې‌پیلوټه امریکایي الوتکې په یوه برید کې له ۳۰ زیات ملکي کسان ووژل شول، چې افغان حکومت لاهم څه غبرګون نه دی پرې ښودلی؛ خو د پخواني ولسمشر حامد کرزي له خوا دا پېښه د یوې اعلامیې په خپرولو سره غندل شوې ده. د بې پیلوټه الوتکو فعالیت هغه موضوع ده چې په امنیتي تړون کې هم ځان نه دی ورکړل شوی. پر دې او ورته نورو پېښو د حکومت سکوت څه پیغام لري؟

د سیمې په کچه هم په ترکیه کې پارلماني ټاکنې د تېرې اونۍ توده موضوع وه، چې له مخې یې د عدالت او پرمختیا ګوند ترټولو زیاتې څوکۍ ګټلې دي، خو هومره نه دي چې په یوازې سر حکومت جوړ کړي. ځکه نو پوښتنه دا ده، چې د ترکیې راتلونکی حکومت به څوک جوړوي او پر سیمه به یې اغېزې څه وي؟

د دې اونۍ په تحلیل کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د څېړنیزې څانګې شننې لولئ.

# طالبان و تحرک‌های اخیر دیپلوماتیک



در چند ماه اخیر طالبان در میدان دیپلوماسی دست به تحرکات چشمگیر زده اند. حضور پررنگ آنان در نشست پگواش در قطر، سفر مقامات طالبان به تهران، مذاکره با فعالان جامعۀ مدنی افغان در اسلو پایتخت ناروی و نشست مقدماتی در دوبی با فعالان سیاسی افغان برای آماده سازی نشست بعدی پگواش که قرار است بار دیگر در قطر برگزار گردد، نشان از تحول تازه در سیاست‌های طالبان دارد.

این تحرکات سیاسی با حملات بی‌سابقۀ نظامی طالبان در مناطق مختلف افغانستان از جنوب تا شمال همزمان است و این درحالیست که پاکستان که گفته می‌شد حامی اصلی طالبان است، به حکومت افغانستان وعده سپرده که طالبان را پشت میز مذاکره حاضر سازد.

آیا تحرکات سیاسی جدید طالبان در جهت تماس و مذاکره با جناح‌های مختلف در داخل و کشورهای خارجی، نشان از تغییر در استراتژی آنان در مورد افغانستان دارد؟ ظهور گروه جدید منسوب به داعش در افغانستان و نیز فشارهای پاکستان بر طالبان تا کدام حد در این تحرکات بی‌سابقۀ طالبان در بخش سیاسی تاثیرگذار بوده است؟

## چرخش از موضع نظامی به گفتگوهای سیاسی

گروه طالبان تا کنون در ذهنیت‌ها بیشتر به عنوان یک گروه نظامی که در صدد رسیدن به قدرت از راه زور است و هیچ تفاهمی به منظور تقسیم قدرت با دیگران را برنمی‌تابد، مطرح بوده است. طالبان از چندین سال بدین‌سو در صدد اند تا این تصور در مورد خودشان را که تاحدی هم به عملکردهای دوران حاکمیت شان در افغانستان نیز رابطه دارد، از ذهنیت‌ها بزدایند.

رفتن اعضای دفتر سیاسی طالبان به قطر را می‌توان یک تحول بزرگ در این گروه در طول سال‌های بعد از 2001 دانست. هرچند در ابتدا گفته می‌شد که این دفتر فقط یک آدرس برای مذاکرات صلح در آینده خواهد بود، اما در طول چند سال گذشته طالبان از این آدرس به مقاصدی فراتر از یک آدرس استفاده کردند. آنها با کشورهای مختلف در تماس شدند و در نشست‌هایی به منظور توضیح موضع شان در قبال جنگ و صلح در افغانستان، شرکت کردند.

اما دست‌آورد بزرگ طالبان از دفتر قطر این بود که رهبری طالبان با منحصر ساختن مذاکرات صلح به این دفتر، راه مذاکرات جعلی را که توسط افراد مجهول الهویه به نام طالبان صورت می‌گرفت و به عنوان دو دستگی یا چند دستگی در صف طالبان نشان داده می‌شد، مسدود ساخت و همین مسئله موجب مخالفت پاکستان با دفتر قطر گردید.

دفتر قطر برای طالبان فرصت رابطه با جهان خارج را فراهم آورد و آنان از حالت انزوا بیرون آمدند. نمایندگان دفتر طالبان در نشست‌های کیوتو در جاپان و شانتئی در فرانسه شرکت کردند و مواضع خود را بیان نمودند.

## نشست پگواش در قطر

این نشست دومین نشست برگزار شده از جانب پکواش در رابطه به افغانستان بود. قبلا این نهاد در اواخر سپتامبر 2012 نشست دو روزه را در دوبی برگزار کرد، اما در آن نشست به جای نمایندگان دفتر قطر، طالبانی دعوت شده بودند که با دفتر قطر رابطه نداشتند.

در نشست دوحه نیز مانند نشست دوبی، شرکت کنندگان به صورت شخصی دعوت شده بودند و از کدام نهاد یا دولت نمایندگی نمی‌کردند. در جریان بحث‌ها طرف‌های شامل در این نشست به این مسئله توافق کامل داشتند که صلح در افغانستان برای خود این کشور و نیز برای منطقه حیاتی می‌باشد.

در نشست دوحه برای نخستین بار امکان رویارویی میان زنان افغان که از کابل رفته بودند و نمایندگان طالبان میسر شد. ملالی شینواری که از کابل در این نشست دعوت شده بود، با طالبان در مورد حقوق زن از نظر طالبان به مذاکره نشست.

## سفر به تهران

بعد از نشست دوحه، طیب آغا در رأس یک هیئتی از طالبان به تهران رفت. هرچند وزارت خارجهٔ ایران از این سفر ابراز بی‌خبری نمود، اما به گزارش خبرگزاری تسنیم که به سپاه پاسداران ایران نزدیک است، این سفر به دعوت مقامات ایرانی صورت گرفته بود.

## نشست اسلو

ناروی کشوری است که در پروسهٔ صلح افغانستان تلاشی خاموشانه دارد. تماس‌های این کشور با طالبان از زمانی آغاز شد که کای آیده از کشور ناروی وظیفهٔ نمایدهٔ خاص سازمان ملل متحد در افغانستان را به عهده داشت. نخستین تماس‌ها در سال 2009 آغاز شد و تماس‌های آن زمان رابطه‌ای را موجب شد که بعد از رفتن نمایندگان طالبان به قطر نیز ادامه یافت.

در نشست اسلو که در اوایل ماه جون صورت گرفت، نمایندگانی از جامعهٔ مدنی افغانستان دعوت شده بودند اما مشخصهٔ این نشست این بود که در آن طالبان حاضر شدند با سرسخت‌ترین مخالفین خود که همیشه علیه طالبان سخن می‌گفتند به مذاکره بنشینند. شکریه بارکزی که در گذشته بیشتر طرفدار جنگ با طالبان بود، در نشست اسلو در مورد حقوق زن در آیندهٔ افغانستان با طالبان به مذاکره نشست و طالبان در این نشست مواضع خود در مورد حق تحصیل و کار برای زنان را، به صورت واضح بیان کردند که طرف مقابل، آنرا نشان از تغییر در موضع طالبان ارزیابی کردند.

## نشست دوبی

در این نشست داکتر قیوم کوچی کاکای اشرف غنی احمدزی، انجنیر قطب الدین هلال از مقامات سابق حزب اسلامی به رهبری حکمتیار که فعلا در تیم اشرف غنی شامل است و سیداسحاق گیلانی از افراد نزدیک به داکتر عبدالله شرکت داشتند. انتخاب طالبان در گزینش افراد مورد مذاکره، نیز جالب است. سید اسحاق گیلانی در عین حال وابسته به خانوادۀ پیر سید احمد گیلانی است و می‌تواند از یک رهبر جهادی هم نمایندگی نماید، قطب الدین هلال یکی از افراد مورد اعتماد حکمتیار بود و در انتخابات ریاست جمهوری نیز با پشتیبانی حزب اسلامی حکمتیار در کارزارهای انتخاباتی سهم گرفت. هلال و گیلانی با پاکستان نیز رابطۀ خوب دارند.

قرار است نشست بعدی قطر بعد از ماه رمضان برگزار گردد و در نشست دوبی روی اجندا و لیست افرادی که باید در آن نشست دعوت شوند، تبادل نظر صورت گرفت.

## نتیجه گیری

تحرکات بی‌سابقۀ طالبان در عرصۀ سیاسی را می‌توان در پیوند با فشارهای پاکستان بر آنان ارزیابی کرد. طالبان با این تحرکات خویش چالش بزرگی را به جان خریده و رو در روی پاکستان قرار گرفته اند.

تجربۀ دوران جهاد نشان داده که پاکستان در بخش نظامی به گروه‌های وابسته به خویش آزادی عمل می‌دهد، اما در پروسۀ سیاسی و زمانیکه پای مذاکره و تفاهم در میان باشد، می‌خواهد خود از آن گروه‌ها نمایندگی نموده و امتیاز بگیرد. در حقیقت موقع به دست آوردن امتیاز برای پاکستان، مذاکرات سیاسی است. مثال روشن در این زمینه مذاکرات ژنو قبل از خروج نیروهای اتحاد شوروی از افغانستان بود که پاکستان به نمایندگی از مجاهدین افغان در آن شرکت کرد.

اما اکنون به نظر می‌رسد که طالبان با تحرکات مبتکرانه در بخش سیاسی، پاکستان را به چالش کشیده اند. در شرایطی که پاکستان با توافق با دولت افغانستان، در صدد است تا عرصه را بر طالبان تنگ‌تر سازد، طالبان در بخش دیپلوماتیک نیز به جای در پیش گرفتن موضع دفاعی، به موضع تهاجمی روی آورده و اقدامات پاکستان را بی‌اثر ساخته اند.

طالبان، تحرکات موازی پاکستان در بخش سیاسی را که توسط کسانی چون ملاعبدالجلیل و ملا عبدالرزاق به راه انداخته است، عملا خنثی کردند. شرکت این افراد در نشست ارومچی هیچ دست آوردی برای پاکستان نداشت و طالبان اعلام نمودند که این افراد از آنان نمایندگی نمی‌کنند.

فشارهای نظامی‌ای که پاکستان در شرق افغانستان به نام داعش بر طالبان وارد آورده، طالبان را در میدان جنگ موقتا به موضع تدافعی کشانده است، زیرا طالبان در شرایط فعلی نمی‌خواهند مستقیما درگیر کشمکش نظامی با پاکستان گردند، اما این وضع نیز قابل دوام نیست زیرا داعش پاکستانی در صدد است به سوی کنر راه باز کند که ملافضل الله رهبر طالبان پاکستانی در آنجا پناه گرفته است. پاکستان ملافضل الله را گماشتۀ استخبارات هندوستان "را" می‌داند.

هرچند این وعدۀ پاکستان به حکومت افغانستان که طالبان را به پشت میز مذاکره حاضر خواهد کرد، به شکلی که پاکستان اراده داشت تا کنون تحقق نیافته است، اما همین فشارهای پاکستان بر طالبان را می‌توان عامل تحرکات اخیر آنان در بخش سیاسی دانست.

از جانب دیگر تمایل طالبان به مذاکره با کسانی که تاکنون آن‌ها طالبان را گماشتۀ پاکستان می‌دانستند و سفرهای افراد مهم آنان به کشورهای خارجی به خصوص ایران، نشان از فاصله گرفتن طالبان از پاکستان و تلاش در جهت حفظ تعادل میان همسایه‌ها دارد. این فعالیت‌ها را می‌توان نوعی فشار متقابل طالبان افغان بر پاکستان تلقی کرد تا اسلام آباد نگران شود که ممکن است در این بازی یکسره بازنده شود و بنابراین به دست‌آوردی در حداقل راضی گردد، اما مشکل طالبان این است که پاکستان در این بازی تنها نیست، بلکه حمایت حکومت افغانستان را نیز با خود دارد.

# د بې‌پیلوټه الوتکو بریدونه او امنیتي تړون



د «ملي یووالي» حکومت له تشکیل سره سم په خپل لومړني اقدام کې له واشنګټن سره لانجمن امنیتي تړون لاسلیک کړ. د حامد کرزي په مشرۍ پخواني حکومت له امریکایانو سره د تړون لاسلیک کول رد کړل. د افغان حکومت له لوري مذاکره کوونکي ټیم د وخت حکومت ته په خپل نظر کې لیکلي وو، چې امریکایان چمتو نه دي د افغان لوري غوښتنې ومني او دا تړون په همدې بڼه د افغانستان په زیان دی. د وخت ولسمشر حامد کرزي د مشورتي لویې جرګې له پرېکړې سره سره هم، تړون لاسلیک نه کړ.

یو له لانجمنو موارد څخه په افغانستان کې مېشتېدونکو امریکایي پوځیانو ته د قضایي مصوونیت ورکړه وه. امریکایانو پر دې غوښتنې ډېر ټینګار کاوه؛ خو ښاغلي کرزي چې له امریکایانو سره یې د نژدې کار اوږده تجربه لرله، دا خبره درک کوله چې امریکایان به بیا-بیا ملکیان وژني او له قضایي مصوونیت څخه په ګټه اخیستو به یې څوک د محاکمې حق نه لري. د حامد کرزي او امریکایانو ترمنځ د لانجو یو لامل ملکي تلفات وو. کرزي یو ځل دا هم وویل چې که بیا ملکي تلفات پېښ شول، افغانان ښایي امریکایان «ښکېلاکګر» وګڼي.

تېره اوونۍ امریکایي بې پیلوټه الوتکو په جنوب ختیځ ولایت خوست کې پر یوې جنازې بمباري وکړه او ۳۴تنه ملکیان یې ووژل.[1] ویل کېږي، چې د سیمې خلک د یوه ځایي قومي مشر جنازې ته ورغلي وو او د بې پیلوټه

[1] په انلاین بڼه یې وګورئ:

الوتکي د برید ښکار شول[2]، چې په قربانیانو کې يې یوازې د یوې کورنۍ شپږ تنه شامل دي. خو د «ملي یووالي» حکومت تر دې دمه کله هم د امریکایانو پر ړندو بمباریو نیوکه نه ده کړې؛ مګر د پخواني ولسمشر له خوا په خپره شوې اعلامیه کې دا پېښه په کلکه غندل شوې ده.

## د افغان حکومت سکوت

د ولسمشر غني په مشرۍ د «ملي یووالي» حکومت له امریکایانو سره د امنیتي تړون هغه نسخه لاسلیک کړه چې امریکايي ځواکونه يې له مخې قضايي مصوونیت لري. که څه هم د ۲۰۱۳م کال دودیزې لويې جرګې هم دا غوښتنه کړې وه چې دا بند باید لرې شي؛ خو د غني حکومت دا ماده څنګه چې وه، همداسې يې ومنله.

د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز له خوا په خپره شوې ستراتېژیکه رساله کې، چې د «امنیتي تړون علمي او حقوقي ارزونې» تر نامه لاندې خپره شوې او د امنیتي تړون په اړه د یو شمېر څېړونکو نظرونه پکې راټول شوي، همدا وېره څرګنده شوې چې د قضايي مصوونیت ورکړه به د امریکایانو په لاس د افغانانو د وژلو مجوز وي. که امریکایان افغانان وژني، افغان يې د پوښتنې حق نه لري. له بلې خوا، د ملي یووالي حکومت په لومړیو ورځو کې، په افغانستان کې یوه امریکايي قوماندان له نیویارک ټایمز سره په مرکه کې ویلي وو، چې د غني حکومت د کرزي په پرتله له دوی سره ډېر همکار دی. دغه جنرال د دې همکاریو تفاوت د شپې او ورځې په څېر ښودلی و!

د ۳۴تنو ملکیانو د وژلو په تړاو د افغان حکومت سکوت ته په کتو سره، د امریکايي قوماندان خبره ډېره کره ثابتېږي. کله چې د امریکا ولس په اتلسمه پېړۍ کې د انګلیس استعمار پر ضد پاڅون کړی و، په باستن کې انګلیسي اردو اووه تنه امریکایان وژلي وو چې تر ننه امریکایان هغه وژنه د «باستن قتل عام» بولي او په هره

---

http://www.khabarial.com/?p=140023

http://zhman.net/?p=47881

[2] په ولسي جرګه کې د خوست د خلکو استازي، حیدرجان نعیم نقل قول.

مارچ میاشت کې د هغوی یاد تازه کوي؛ خو دلته ۳۴تنه وژل شوي لېترلېږه افغان حکومت هم امریکایانو ته د «احتیاط» لاربښوونه نه کوي!

## په افغانستان کې د بې‌پیلوټه الوتکو فعالیت

له امریکا سره په لاسلیک شوي امنیتي تړون کې، د بې پیلوټه امریکایي الوتکو فعالیتونو او بریدونو ته، چې امریکایي جنرالانو ډېر ټینګار پرې کاوه، په ټول تړون کې هېڅ اشاره نه ده شوې، چې ایا بې پیلوټه الوتکې به په افغانستان کې دننه د کومو اهدافو لپاره، چېرته او څرنګه کارېږي او همدا راز به د افغانستان له خاورې څخه له افغانستانه بهر، لکه اوس چې په وزیرستان کې بمبارۍ کوي، څرنګه فعالیت لري؟ کوم څه چې له تېرو څو کلونو راهیسې امریکایي ځواکونو په خپلو پوځي اقداماتو کې ترټولو ډېر کار ترې اخېستی دی.

د بې پیلوټه الوتکو کنټرول په افغانستان کې د سي ای اې په غاړه دی او ټول فعالیت به یې اوس د پاکستان د شمسي اډې پر ځای له همدې ځایه رهبري کېږي. په ټولیز ډول په راتلونکي کې د افغانستان په خاوره کې د امریکا د فعالیتونو مهمې برخې، لکه د سي آی اې او بې پیلوټه الوتکو د عملیاتو او بمباریو په څېر، په دغه تړون پورې نه دي اړوندې شوې او ګونګې پرېښودل شوې دي.

سربېره پر دغو مسایلو، په ځینې هغو محرمو اسنادو کې چې د تړون په اړه د خبرو اترو لپاره تاکل شوي افغان پلاوي، افغان چارواکو ته رالېږلي وو، راغلي چې امریکایي پلاوی د امریکا د استخباراتي شبکې او امریکایي بې پیلوټه الوتکو له هغه څه زیاتې ازادۍ باندې ټینګار لري، چې په تړون کې یې یادونه شوې ده. په دغو اسنادو کې راغلي، چې په خبرو اترو لپاره د امریکا د حکومت له خوا ټاکل شوی پلاوی ټینګار کوي، چې (CIA) یا د امریکا استخباراتي شبکه او د بې پیلوټه امریکایي الوتکو عملیات به د دغه تړون تابع نه وي.

## د ملکیانو تلفات او عامه ذهنیت

د امریکایي ځواکونو له خوا افغان ملکیان داسې مهال وژل کېږي چې د حکومت پر ضد د طالبانو عملیات او ډیپلوماسي دواړه له پخوا ډېرې چټک شوي دي.

د ملي یووالي د حکومت ستونزې له یوې خوا، د امریکایانو له خوا ملکي وژنې له بلې خوا او په دغسې وضعیت کې د طالبانو نرمښت ښایي د ولس او حکومت تر منځ واټن زیات کړي. د طالبانو وروستیو ډیپلوماتیکو ګامونو وکولای شول چې عامه ذهنیت د دوی په تړاو تر ډېره بریده بدل کړي.

امریکایانو په تېرو دیارلسو کلونو کې د ښې حکومتدارۍ ژمنې کړې دي؛ خو حکومتداري د ښې پر ځای لا د وراني پر لور تللې ده. د امریکایانو له خوا ملکي وژنې او له افغان حکومت سره د چل او فریب چلند هغه لاملونه دي، چې د دوی پر ضد یې د افغانانو ترمنځ عامه کرکه او نفرت د تېر په پرتله څو چنده کړې ده.

# د ترکیې ټاکنې؛ آیا بهرنی سیاست بدلیږي؟



د روان میلادي کال د جون پر ۷مه نېټه په ترکیه کې پارلماني ټاکنې وشوې، چې د رسمي پایلو له مخې د عدالت او پراختیا ګوند یکې تر ټولو زیاتې رایې ګټلې دي. سره له دې چې دغه ګوند تر ټولو زیاتې رایې وګټلې؛ خو د تېرو ټاکنو په پرتله یې دا ځل په پارلمان کې کمې څوکۍ ترلاسه کړې دي[3]؛ ځکه خو دا ځل په یوازې سر حکومت نه شي جوړولی او اړ دی، چې له یوه بل ګوند سره په ائتلاف کې دننه شي.

پوښتنه دا ده، چې په ترکیه کې به د راتلونکي حکومت د جوړونې لپاره کومې سیناریوګانې وي، آیا د عدالت او پراختیا ګوند بریالی شو که ناکام؟ او راتلونکی ائتلافي حکومت به پر سیمې څه ډول اغېزې وښندي؟

---

[3] په تېرو ټاکنو کې دغه ګوند ۳۲۷ څوکۍ ترلاسه کړې وې او په روانو ټاکنو کې یې ۲۵۸ ترلاسه کړې دي.

## په ترکيه کې د اسلامپالنې شالید

کله چې په هسپانیه کې د امویانو حکومت ته د پای ټکی اېښودل کېده، نو په ترکيه کې د عثماني خلافت بنسټ کېښودل شو. دغه خلافت تر ۱۹۲۴ کال پورې د اسلامي نړۍ ډېرې برخه په یوه واحد قلمرو کې راټوله کړې وه. خو په لومړۍ نړیواله جګړه کې د متحدینو له بریا سره نه یوازې دا چې له عثماني خلافت څخه ډېری مسلمانان (عربان) بېل شول، بلکې خپله په ترکيه کې د عثماني خلافت ځای د کمال اتاترک سیکولر حکومت ډک کړ او وروسته یې د ترکیې د اسلامي تشخص په اړه د مخالفت ګامونه پورته کړل. د بېلګې په توګه، ترکي رسم الخط یې له عربي څخه یوناني ته واړاوه، پر آذانونو یې بندیز ولګاوه، چا خولۍ نه شو په سر کولی او دغه راز یې په ډېرې نورو هغو څېزونو بندیز ولګاوه، چې ترکیې ته یې اسلامي تشخص ورکړی و.

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ترکيه کې د عدنان میندریس تر قیادت لاندې یو خوځښت راپورته شو، چې په ترکيه کې یې د اسلامي تشخص او اسلامیزم احیا غوښته. په همدې موخه نوموړي د ۱۹۵۰ کال پارلماني ټاکنو کې آذان بېرته په عربي ژبه د اړولو ژمنه وکړه. دی له ۱۹۵۰ کال څخه تر ۱۹۶۰ کال پورې د ترکیې لومړی وزیر و؛ خو د ۱۹۶۰ کال د می پر ۲۷مه نېټه ترکي پوځ د ده حکومت په یوه کودتا کې ړنګ او دی یې په پای کې د ۱۹٦۱ د سپتامبر پر ۱۷مه نېټه اعدام کړ. په هغه دا تور و، چې مذهب په سیاست کې د یو ابزار په توګه استعمالوي او د یوې ادعا له مخې، ده یو مهال د خپلو خبرو اترو پرمهال ویلي وو، چې که پارلمان وغواړي نو عثماني خلافت هم بېرته راوستلای شي.

د عدنان مېندرېس له اعدام سره دغه نوی راپورته شوی خوځښت خپ شو. په ۱۹٦۹ کال کې نجم الدين اربکان خپل تحريک پيل کړ، چې له ډېرو ستونزو سره هم مخ شو او درې ځله یې پر ګوند بندیزونه ولګېدل. د ۱۹۹۵ کال په پارلماني ټاکنو کې د نجم الدين اربکان ګوند ټاکنې وګټلې او یو ایتلافي حکومت یې جوړ کړ؛ خو په ۱۹۹۷ کال کې د نوموړي پر حکومت کودتا وشوه او د ترکیې د اسلامي نهضت ډېری غړي بندیان شول.

په نویمه لسیزه کې رجب طیب اردوغان، عبدالله ګل او د عدالت او پراختیا ګوند ډېری غړي د اربکان په ګوند کې وو؛ خو کله چې د اربکان په حکومت کودتا وشوه، نو له اربکان سره د دغو کسانو اختلافات ژور شول او له کبله یې اردوغان په ۲۰۰۲ کال کې عدالت او پراختیا ګوند تاسیس کړ. دوی د ۲۰۰۳ کال په ټاکنو کې ګډون وکړ او د ټاکنو له ګټلو سره یې خپل حکومت جوړ کړ. همدا راز یې په ۲۰۰۷ او ۲۰۱۱ کلونو کې بیا پارلماني

ټاګنې وګټلې. دا چې د عدالت او پراختیا ګوند ولې پرله پسې څلور ځله پارلماني ټاکنې وګټلې تر شا یې عمده لامل د ترکیې اقتصادي پرمختګ او پر غریبې او متوسطې طبقې د دغه پرمختګ مثبتې اغېزې دي.

## عدالت او پراختیا ګوند؛ بریالی که ناکام؟

د ترکیې د ټاکنو له پایلو وروسته، د لویدیځ ډېری رسنۍ دغه ټاکنې د عدالت او پراختیا ګوند او د اردوغان پر ناکامۍ پای ته رسېدلې بولي، هغه هم داسې مهال چې د عدالت او پراختیا ګوند پکې تر ټولو زیاتې رایې او څوکۍ ګټلې دي. لومړی خو دلته د ناکامۍ او رد کېدو اصطلاح بیخي غلطه ده. دا محض منفي پروپاګند او په خبري رسنیو کې د ژېړ ژورنالېزم راتګ دی.

ځینې نورو رسنیو دغه ټاکنې داسې منعکسې کړې، چې ګواکې د ترکیې ملت د اردوغان پالیسۍ رد کړې؛ خو د رسنیو دغه چلند نه یوازې دا چې پر تعصب ولاړ دی بلکې یو ډېر سطحي تحلیل هم بلل کېدای شي.

که څه هم له دې خبرې څوک سترګې نه شي پټولی، چې دا ځل په ټاکنو کې د تېرو ټاکنو په پرتله د عدالت او پراختیا ګوند کمې رایې او څوکۍ ترلاسه کړې؛ خو د دې تر شا نور لاملونه دي، چې د ځینو شنونکو په اند په خپله د عدالت او پراختیا ګوند لږکي داخلي اختلافات وو. له دې سره د رایو د کموالي بل علت د فتح الله ګولن خوځښت هم و.

د رایو د لږ کموالي تر شا د عدالت او پراختیا ګوند ناکامي او رد کېدل ناسم تحلیل دی. د دې ترڅنګ که چېرې رېښتیا هم د ترکیې ملت د اردوغان له «دکتاتوري!» چلند سره مخالف وو نو بیا یې ولې په ولسمشریزو ټاکنو کې اردوغان غوره کاوه. هغه هم په داسې حال کې چې اردوغان خپله تګلاره له ټاکنو وړاندې روښانه کړې وه. له دې سره، که چیرې د ترکیې ملت بیا هم د اردوغان د واکمنۍ له سټایل څخه په تنګ وی، نو بیا یې ولې ګوند ته د ښاروالۍ په ټاکنو کې اکثریت رایې ورکولې او ولې یې اوس په دغه پارلماني ټاکنو کې تر ټولو زیاتې رایې ورکولې.

## د حکومت جوړونې راتلونکې سناریوګانې

که څه هم د عدالت او پراختیا ګوند په روانو ټاکنو کې د پارلمان ۲۵۸ څوکۍ ترلاسه کړې؛ خو بیا هم د ترکیې قانون له مخې په یوازې ځان حکومت نه شي جوړولای؛ ځکه د حکومت جوړونې لپاره باید یو ګوند له ۵۵۰ څوکیو څخه ۲۷٦ څوکۍ ترلاسه کړې. د عدالت او پراختیا ګوند ۲۵۸ څوکۍ لري او یوازې ۱۸ څوکیو ته اړتیا لري.

| ګوند | په پارلمان کې څوکۍ |
|---|---|
| عدالت او پراختیا | ۲۵۸ |
| د خلکو جمهوریت پلویو ګوند | ۱۳۲ |
| د خلکو ډیموکراتیک ګوند | ۸۰ |
| حزب حرکت ملي | ۸۰ |

د ترکیې د پارلماني ټاکنو پایلې

د ترکیې د راتلونکې حکومت په تړاو لاندې څو سناریوګانې جوړېدای شي:

لومړۍ؛ دا چې د عدالت او پراختیا ګوند له آزادو غړیو سره یوځای حکومت جوړ کړي.

دویم؛ دا چې د عدالت او پراختیا ګوند د خلکو جمهوریت پلوو ګوند سره یوځای حکومت جوړ کړي.

درېیم؛ دا چې د عدالت او پراختیا ګوند د خلکو ډیموکراتیک ګوند سره یوځای حکومت جوړ کړي.

څلورم؛ دا چې د عدالت او پراختیا ګوند له حزب حرکت ملي سره یوځای حکومت جوړ کړي.

پنځم؛ دا چې د خلکو جمهوریت پلوو ګوند او د خلکو ډیموکراتیک ګوند سره یوځای حکومت جوړ کړي.

شپږم؛ دا چې که په ۴۵ ورځو کې ایتلافي حکومت جوړ نه شي، نو پارلماني ټاکنې به بیا له سره کېږي.

په پورته ټولو سيناريوګانو کې تر ټولو نږدې او شونې دا ده، چې د عدالت او پراختيا ګوند له کوم بل ګوند سره يوځای حکومت جوړ کړي؛ خو دا به بيا له عدالت او پراختيا ګوند څخه يو څه تفاهم او له اصولي خبرو څخه راښکته کېدل غواړي. په دې اړه تر ټولو مهم لامل دا دی، چې په مخالفو ګوندونو کې دوه ګوندونه که يوځای هم شي نو حکومت نه شي جوړولی؛ ځکه که د خلکو جمهوريت پلوي ګوند ۱۳۲ که د خلکو ډيموکراتيک او يا حزب حرکت ملي ګوند ۸۰ سره يوځای شي نو دا ۲۱۲ څوکۍ کېږي. بيا هم دوی ۶۴ څوکيو ته اړتيا لري. له دې سره، د درېيواړو ګوندونو ايټلافي حکومت په منطقي توګه شونی هم نه دی؛ ځکه درې واړه له يو بل سره په ډېرو پاليسيو کې تضاد لري.

## د نوي حکومت بهرنۍ چارې

داسې برېښي چې په ترکيه کې به راتلونکی حکومت د عدالت او پراختيا ګوند يو ائتلافي حکومت وي، چې دا به بيا تر ډېره او په لنډ مهال کې د ترکيې پر بهرني سياست ډېره اغېزه ونه کړي. ترڅو چې د عدالت او پراختيا ګوند په ترکيه کې واکمن وي، ناممکنه برېښي، چې د ترکيې په خارجي سياست کې دې کوم انقلابي بدلون ترسترګو شي. په منځني ختيځ کې به د ترکيې خارجي سياست په اوسني ډول روان وي. دوی به بيا هم د مُرسي آزادېدل او د بشار الاسد لرې کېدل وغواړي؛ خو دا ځل به د عدالت او پراختيا ګوند د پخوا په څېر په چارو کې ډېر خلاص لاس ونه لري.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com – www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)